مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

نعمان دوست

۲۰۲۴/۰۵/۰۸

# د پوهنتون خاطرې

## (۲۰)




ظفرګل مې د لیسې د دورې ټولګیوال و. دا هلک ډیر ذهین و. هم په کم عمر کې ملا و او هم په ساینسي مضامینو ښه سم پوهیده؛ ځکه خو هم د دیني مضمونونو په ښوونکیو ګران و او هم په دې نورو. ظفر ګل راسره د فاکولتې په لومړي ټولګي کې همصنفی شو؛ خو داسې ښکاریده چې ادبیاتو ته یې چندان ډېره نه لګیده.

لیلیه کې په یوه اتاق کې وو. ظفرګل غوښتل د ادبیاتو پوهنځی پرېږدي. د کرنې پوهنځي ته یې ښه سم میلان پیدا کړی و. په هغه ورځ چې اتاق ته راننوت؛ نو زما پر چپرکټ کیناست. ما د رحمان بابا دیوان پرانیستی و او په شاعرۍ کې یې غرق وم. ظفرګل پریشانه ښکاریده. لکه یو نابلده چې دوه لاري کې ولاړ وي او هیڅ نپوهیږي چې منزل مقصود ته په کوم سړک ور تاو شي. راته ویل یې:

زړه مې دی دا ادبیات تاسې ته در پرېږدم. نه پکې چندان ګټه وینم او نه راته هیڅ خوند راکوي. ما ویل هو نو، تاسې ملایانو ته بې غیر له خوراکه نور شیان چیرته خوند درکوي. هلک په خندا شو او بیا یې ویل: ښه، زړه مې دی پوهنځی پرېږدم. زراعت فاکولتې ته کامیاب شوی یم. ستا مشوره څه ده؟ ما ویل :زه به څه یم او مشوره به مې څه وي. راځه، د رحمان بابا پر دیوان پال ونیسو او چې هره مشوره یې درکړه، بیا به هماغه منې! په جدي انداز یې وویل: رحمان بابا پرېږده، هغه زما له مشکلاتو څه خبر دی؟ خپله خبره کوه .ما ویل، ګوره سمه ده چې خبر نه دی؛ خو په یوه تاریخي روایت کې مې لوستي و چې آن میرویس نیکه چې کله د ګرګینیانو په خلاف توره را ایستله؛ نو اول یې د رحمان بابا دیوان د مشورې په توګه پرانیسته و او دا بیت یې مخې ته راغلو:

**د مکتوب غوندې په پټه خوله ګویا یم**
**خاموشي زما تیری کا تر غوغا زما**

او چې کله میرویس نیکه دا بیت ولوست؛ نو داسې تعبیر یې وکړ چې باید په پټه خوله لا نور چمتوالی ونیسي او دا د برید وخت نه دی. همداسې یې وکړل او چې څو میاشتې وروسته یې بیا دیوان پرانیست؛ نو دغه بیتونه ورته موسکي شول:

**چې اسمان یې مخ پټ کړی په سحاب و**
**خدای و ماته ښکاره کړ هغه لمر بیا**
**چې رقیب را ته ترلی په ځنځیر و**
**خپل حبیب را باندې پرانیست هغه ور بیا**



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په خیر و لولئ

**په وصال يې منت بار اوسه رحمانه**
**په صدف کې دخل نشته د گوهر بيا**

نيکه د دې بيتونو په لوستلو پوه شو چې نور وخت د بريد دی، بسم الله يې کړه او خپله پاکه خاوره يې د صفوي ګرګين د خونکارو پوځيانو له ناولو قدمونو پاکه کړه.

ظفرګل زړه او نازړه و. اخر يې وويل: ځه، ته دې دا د بابا ديوان خلاص کړه چې څه وايي.

ديوان مې پرانيست او دا بيت پکې څرګند شو:

**نه هورې شوی، نه دلې شوی**
**په منځ پاتې مذبذب**

له دې سره سړی تک سور شو او په غوسه يې ويل: بند کړه دا ديوان، اوس به مې تاته هم څه ويلي وي او رحمان بابا ته هم!

ظفرګل، پوهنځی پرېښود؛ خو بيا مې ورسره رابطه ونشوه چې کومه بله فاکولته يې ولوسته او که مذبذب پاتې شو.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ